بسم الله الرحمن الرحيم

## د نوي كولو او بيا جوړونې په نامه، د اسلام د تحريف لپاره د «ازهر» نړيوال كنفرانس!

## (ژباړه)

د شيخ دوكتور احمدالطبيب ازهر  هغه دريځ ته ډېر نه تم كيږو، چې پكې يې د قاهرې پوهنتون رييس دوكتور خشت ته غاښ ماتوونكى ځواب وركړ. د نوموړي دغه دريځ چې د  امت د ډېرو هغو بچيانو خوښ شو چې تل د داسې رېښتينو خلكو پر دريځونو وياړي. له ډېر وخت راهيسې دا ډول دريځونه ورک شوي دي. په ځانګړې توګه كله چې پر دغه موسسه (ازهر) حكومت خپل تسلط زيات كړ او دين يې له دوی او ژوند څخه لرې كړ. د ازهر شيخ د هغو كسانو پر ضد چې د بيا جوړونې او د دين نوي كولو شعارونه وركوي او همدارنګه له ترورېزم سره د مبارزې په اړه خپل ځواب وړاندې كړ. خو د كنفرانس – چې د دغه پياوړي ځواب شاهد و - د پاى اعلاميې د شيخ ټولې خبرې په اوبو لاهو كړې او ټولو لرې او نيږدې كسانو ته يې دا روښانه كړه چې د ازهر شيخ هم «خشت» ته ورته يو شخص دی. همدارنګه د هغه څه تر شا ولاړ دی چې اسلامي مفاهيم تحريفوي او د كافر غرب له معيارونو سره يې سموي.

د نوي كولو او بيا جوړونې مفهوم چې خشت مطرح كړ، دا دی: «د پلار پخوانى كور مې پرېږدم او ځانته يې په نوي كور بدلوم.» په حقيقت كې د دې خبرو مفهوم د شيخ وروستۍ خبرې ثابتې كړې. هغه موږ ته داسې يو نوی دين وړاندې كوي، چې كاملاً د غرب له مفاهيمو سره يو شان او هېڅ ډول محتوا پكې نشته. دغه راز پخوانى اسلام ـ چې پر محمد صلى الله عليه وسلم نازل شوی ـ پرېږدي. هغه اسلام چې د كنفرانس وروستۍ خبرې يې وړاندې كوي، نه جهاد پكې شته، نه خلافت، نه د حكومت كولو نظام، نه شريعت او نه هم د دولت او امت يووالى. دغه ټول موارد به په لاندې كرښو كې په يو څه تفصيل تشريح كړو:

ازهر شريف د ۱۴۴۱هـ . ق كال د جمادى الثاني له ۲- ۳مې نېټې چې د ۲۰۲۰م د جنوري له ۲۷-۲۸مې سره سمون خوري د ازهر د كنفرانسونو په مركز، نصر ښار كې، د «اسلامي فكر ته بيا كتنه» تر عنوان لاندې يو كنفرانس جوړ كړ. دا او پخواني كنفرانسونه له يوبل سره هېڅ توپير نه لري. موخه يې د ديني خبرو اتر په اړه د سيسي د امر پلي كول دي چې واک ته د ده تر رسېدو او له خيال ترهګرۍ سره د جګړې له اعلان وروسته پيل شوي او خلک پرې بوخت ساتلي. سيسي ځان له اسلام او اسلامي احكامو سره د جګړې له لارې غرب ته تسليم كړی دی. د ازهر په شان په نورو پورې تړلې موسسې چې ټول امرونه او دستورونه له نظام څخه اخلي، د خپل ملاتړ كوونكو له امر څخه سرغړونه نه شي كولی او نه هم د هغوی پر وړاندې ازاد فكر كولی شي. په حقيقت

کې، د نظام دغه غوښتنه د امت د دښمنانو د ګټو لپاره شوې ده او تر شاه یې ناوړه موخې شته؛ خو تر ټولو لویه ستونزه او مصیبت دا دی چې په دغه کنفرانسونو کې د الله سبحانه وتعالی له دین سره لوبې کیږي، د الله تعالی کلام تحریفوي او له اسلام څخه یې محتوا باسي. دوی په دې باور دي، چې د الله تعالی له هغه دین پرته چې پر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی، بل دین هم شته او باید پیروي یې وکړو. دغه راز وایي هغه څه چې د نبووت، صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو د وخت لپاره وو د اوسمهال لپاره مناسب نه دي؛ دوی څومره بد حکم کوي!!!

له بل اړخه په اسلامي فکر کې د بیاجوړونې او نوي کولو مفهوم؛ اسلامي اوصولو ته د بیا ورګرځېدلو او د هغه څه په وسیله د انسان په ژوند کې د بیا راژوندي کولو په مانا دی چې له منځه تللي وي. دغه راز د ټولو کړو او منحرف شوو شیانو د سمولو په مانا دی او همدارنګه له نویو پېښو سره مقابله او مبارزې ته وایي. د بیا جوړونې د عملیې په اړه د اسلام لیدلوری، د هغو تمدني نښو بیا جوړونه ده، چې پخوا رامنځته شوې وې او د هغوی پر وړاندې هېڅ ډول متجاوزانه او ترې د تېښتې اقدام نه و شوی. خو هغه څه چې د کنفرانس د وروستیو په اعلامیه کې وویل شول، له اسلامي مفهوم څخه لرې بیا جوړونه او نوي کول وو. موخه په غربي مفهوم نوي کولو او بیا جوړونه وه، دوی داسې شی رامنځته کول غواړي چې له اصل څخه یې لرې وي، انقلاب ته نوی مفهوم ورکوي او په دې ادعا چې د نوي کولو او احیا لپاره ثابت معیارونه نشته، د امت له تېر وخت څخه انکار کوي.

له شک پرته چې د دوی لپاره د حاکمیت مفهوم بې شمېره تعریفونه لري؛ په ځانګړي دول هغه چې دوی وغوښتل پر اسلامي ډلو د تور لګولو او د هغوی د تندلارو بللو له لارې له خپلې اصلي محتوا څخه تش کړي؛ دا کار یې یوازې د دې لپاره کاوه چې دغه ډلې حاکمیت یوازې د الله تعالی بولي، یعنې دغه ډلې وایي چې یوازې الله تعالی د قانون جوړونې او تشریح کولو حق لري. په دې معنا چې د دولت اساسي قانون او نورو قوانین باید له قرانکریم او نبوي احادیثو څخه رایستل شوي وي او دغه کار باید هغه علما تر سره کړي، چې د اجتهاد شرایط یې پوره کړي وي. د کنفرانس د وروستۍ اعلامیې موخه دا وه چې خلک وغولوي؛ په ځانګړې توګه کله یې چې وویل، د حاکمیت معنا ( خلکو ته د حکم د نسبت نه ورکول) ده؛ ګواکې اسلامي دولت یو الهي دولت دی او پریښتې حکومت پکې کوي! خو اسلامي دولت یو بشري دولت دی او په راس کې یې بشر وي؛ دا حاکمان او د راس کسان باید په هغه څه حکم وکړي چې الله تعالی رالېږلي دي؛ نو هغه احکام چې الله تعالی رالېږلي او د هغه چا تر منځ چې پر دغو احکامو حکم کوي توپیر شته. موږ د ازهر له شیخ څخه پوښتنه کوو:

سره له دې چې په خپلو خبرو کې دې پر دې اعتراف وکړ، چې د شرعي قواعدو پر بنسټ شرعي حکم د الله تعالی له حاکمیت سره په ټکر کې نه، بلکې یوه برخه یې ده؛ نو د دغه نظام کوم ځای د هغه په شان دی، چې

ته يې اصلي پايه او ملاتړی يې؟ د شرعي قواعدو پر بنسټ حکم چېرته دی؟ او په اصلي معنا د الله سبحانه وتعالی حاکمیت چېرته دی؟ خو دا خبرې دي؛ (خلافت د حکومتولۍ یو ډول نظالم دی، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه پرې راضي شول، د دوی له وخت سره مناسب و او پر واسطه يې د دين او دنيا کارونه سم شول. همدارنگه ودې ويل چې په دې اړه په نصوصو او سنتو کې داسې حکم نشته چې جبري شي، بلکې په شريعت کې د حکومتولۍ هر ډول معاصر نظام چې عدل، برابري، ازادي، له هېواد څخه دفاع او د ټولو ښاريانو حقونه پکې خوندي وي، منو يې. همدارنگه ودې ويل د دولتونو دغه بڼې چې د دين له کوم ثابت اصل سره په ټکر کې نه وي، نو د عقايدو  او مليتونو له اختلاف سره سره يې منو) د الله سبحانه وتعالی په دين کې له خلکو سره تر ټولو لوی فريب دی.

زه دلته هغه نصوص نه راوړم، چې ستا خبرې ردوي، ځکه له شک پرته چې ته په هغو پوهېږې او ترې خبر يې. خو د ازهر هغه موقف چې په ريښتيا د علم او علماوو څراغ و، درته بيانوم. د ازهر لويو علماوو په ۱۹۲۵م کال کې د خلافت د سقوط په اړه یوه غونډه جوړه کړې وه. هغوی په دغه غونډه کې د خلافت دقيقه معنا واضح کړه او پرېکړه يې وکړه، چې خلافت بايد وژغورل شي. دغه راز په دې اړه د څېړنې لپاره يې نړيوال کنفرانس جوړ شوی و، دغه کار د ازهر د شيخ، خضر حسين په وخت کې شوی و او دا ستا ښه په ياد دي. هغه خلافت چې هغه وخت يې د ازهر علماوو په اړه خبرې کولې داسې يو خلافت و، چې وجود يې فرض او د مسلمانانو د يووالي د رمز په توگه پېژندل کېده. د دې لپاره چې دا منصب فعال وي، نو خليفه بايد دينې او مدني نظامونه سره يوځای کړي. هغوی خلافت دا ډول تعريف کړ: د امت مصالحو او په امورو کې يې تدبير ته په کتو، د دين پلي کولو او د ټولو خلکو رياست ته خلافت ويل کيږي. امام، نائب صاحب شريعت در تطبيق دين و تنفيذ احکام آن و تدبير امور دنيوی مردم بر اساس مقتضی و ديدگاه شريعت می‌باشد.) اين‌است خلافت و اين‌است آن‌چه که علمای سابق ازهر بيان نموده بودند. بايد از شيخ ازهر بپرسيم که آيا نظام‌های سيکولاری پی‌درپی در سرزمين‌های اسلامی، امنيت و آرامش را برای مسلمانان به بار آورده‌اند؟ و آيا از خون و آبروی آن‌ها حفاظت نموده‌اند؟ و يا اين‌که در ريختن خون آن‌ها رقابت نموده و بر بالای اجساد آن‌ها کرسی قدرت را قرار داده و بالای آن تکيه زده‌اند تا انواع ذلت و بدبختی را به آن‌ها بچشانند و آن‌ها و ثروت‌های‌شان را به دشمن فرومايه‌ای‌که مدت‌ها می‌شود در انتظار اين روزها بود تسليم نمايند، دشمنی‌که بر عليه آن‌ها جنگ صليبی را به راه انداخت و تا زمانی‌که به خلافت آن‌ها پايان نداد، سرزمين‌های آن‌ها را اشغال ننمود، وحدت آن‌ها را توسط تفرقه‌ای به نام دولت‌ها از بين نبرد، پايان اين جنگ را اعلان نکرد و هرگز آرام ننشسته و دست روی دست نگذاشت، هيچ آبرويی را حفظ نکرد و هيچ سرزمينی را آرام نگذاشت. امام، د شريعت پر بنسټ د خلکو د دنيوي امورو ترتيبونکی او د شريعت تطبيق کوونکی او همدارنگه د احکامو تنفيذوونکی دی. خلافت دا ډول دی او دا هغه څه دي چې د ازهر پخوانيو علماوو ويلي دي. له شيخ ازهر څخه بايد وپوښتو، چې ايا په اسلامي

هېوادونو کې پر له پسې سیکولریستي نظامونو خلکو ته امنیت او ارامتیا رامنځته کړې ده؟ ایا د هغوی وینه او عزت یې ساتلي دي؟ که یې د هغوی په وینه توینه کې سیالي کړې او که د هغوی د جسدونو پر سر یې د قدرت چوکۍ ایښې، تر څو هغوی په بېلا بېلو بڼو وځوروي. دغه راز دوی او شتمنۍ یې هغه دښمن ته وسپارلي چې له ډېره وخته دغې ورځې ته په تمه و. هغه دښمن چې د امت پر وړاندې یې صلیبي جګړې رامنځته کړې، تر څو یې چې د امت خاورې نه وې نیولې او یووالی یې د دولتونو په وسیله له منځه یونوړ، د دغو جګړو پای یې اعلان نه کړ. دغه راز هېڅکله ارام کېنناستل، هېڅ هېڅ ډول ابرو یې ونه ساتله او هېڅ خاوره یې ارامه پرېښوده.

خو دغه خبرې مو: (په اسلام کې جهاد له قتال سره مترادف نه دی او هغه قتال چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه وو تر سره کړ، د جهاد له ډولونو یو ډول و. دغه راز قتال یوازې د مسلمانانو پر وړاندې د متجاوزینو د تجاوز په مقابل کې تر سره کیږي.) په حقیقت کې دا هغه څه دي چې غرب یې له تا څخه غواړي او دا چې دې مفکورې ته مو په تعلیمي برنامو کې ځای ورکړئ او که وکولی شي له قرانکریم څخه به مو د جهاد د ایتونو لرې کولو ته هم اړ کړي او په تاسو کې شک هم نشته چې دا کار به ونه کړئ. ځکه زموږ په خاورو کې تاسو ته ورته مزدوران او د غرب له فرهنګ څخه اغېزمنو دا کارونه کړي دي. غرب د خپل نظام او ګټو پر وړاندې د جهاد د مفکورې خطر ویني. ځکه خو هڅه کوي، چې د مسلمانانو له ماغزو څخه دغه مفکوره وباسي؛ سره له دې چې دوی تل د مسلمانانو پر ضد جنګیږي او هغوی په خپلو خاورو کې مهاجر کوي. دغه راز هېڅکله یې دا نه دي ویلي، چې جنګ زموږ په دین کې له وطن څخه د دفاع په خاطر دی، خو تاسو دا ادعا کوئ.

موږ دلته داسې یوې مناقشې ته نه ننوځو چې دا درواغ رد کړو چې ګواکې جهاد یوازې له وطن څخه د دفاع په خاطر روا شوی. ځکه دا نظریه له اسلام سره د بېګانه وو د نظریې یوځای کېدل دي او د امت د متقدمینو علماوو له ډلې یوه هم اعتراف نه دی پرې کړی. دا چټلې نظریې د اسلامي خاورې د هېوادونو پر وړاندې د غرب د دوو وروستیو پېړیو د فکري او فرهنګي جګړې له کبله رامنځته شوې دي. موږ ښاغلي شیخ ته وایو: که په اسلام کې د قتلونو لامل تجاوز وي، لکه ته چې وایې، نو ولې له هغو کسانو چې واک پرې لرې، نه غواړې چې پر فلسطین د یهودو له برید او د مسجد الاقصی د پاکولو لپاره جهاد اعلان کړي!؟ ته هغوی غیر متجاوز او حقدار بولې یا یې د ګاونډیتوب په خاطر خپل دوستان ګڼې او یا هم هغه څه چې پر فلسطینیانو تیرېږي په مصر پورې اړه نه لري!؟ ایا پر عراق او شام د امریکا بریدونه او دښمني د ځواب وړ نه دي!؟ او که تاسو هغه ماشومان، ښځې او سپین ږیري نه وینئ چې د امریکا او ملګرو لخوا یې وژل کېږي!؟

له شک پرته، جهاد لکه څنګه چې معتبرو فقهاوو تعریف کړی، عبارت دی له: د جګړې لپاره هڅه او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې په مستقیمه توګه مبارزه. یا هم په خپل مال د لښکر د ځواک زیاتول، مشوره ورکول او داسې نورې اړتیاوې یې پوره کول. نو د کلمة الله د ساتنې لپار جګړه کول، جهاد دی او حکم یې په پیلولو

کې فرض کفایي او د برید پر مهال فرض عین دی. د جهاد په پیل کې د هغه د فرض کفایي مانا دا ده، چې لومړي موړ له دښمن سره جګړه پیل کړو؛ که څه هم دښمن جګړه نه وي پیل کړې. همدارنګه که چېرې په یوه وخت کې هېڅوک جګړه پیل نه کړي، نو هېڅ مسلمان به یې په ترک سره نه ګنهکارېږي.

دغه راز د جهاد دلایل عام او مطلق دي، چې دفاعي جګړه او د دښمن له خوا د جګړې پیل، محدوده جګړه، نا محدوده جګړه او داسې نورې ټولې رانغاړي. دا دلایل له دښمن سره د هر ډول جګړې او قتال ټول ډولونه عمومي او مطلق رانغاړي. دا دلایل دفاعي جګړې ته ځانګړي کول او یا یې ورته مقید کول، چې جګړه باید دفاعي وي، نه هجومي او داسې چې ټول ګډون پکې وکړي، نص ته اړتیا لري، چې هغه ورته ځانګړي او یا یې ورته مقید کړي. خو تاسو د کنفرانس په ورستۍ اعلامیه کې له نص پرته ورته ځانکړي کړل. په قرانکریم او سنتو کې هېڅ داسې نص نه دی راغلی، چې هغه ځانګړی او یا مقید کړي. دغه دلایل یې په خپل عمومیت کې پاتې کیږي، چې له دښمن سره هر ډول جګړه پکې شاملیږي.

نن ورځ اسلامي امت دولت نه لري، چې د اسلامي دولت تر ولکې لاندې خاوره کې اسلام پلی کړي او د دعوت او جهاد له لارې یې هغو سیمو ته ولېږدوي چې د اسلامي دولت تر حاکمیت لاندې نه دي. کله یې چې په ۱۹۲۴م کال کې خلافت له منځه یوړل شو، نو ښکېلاکګرو کفارو یې پر ځای کوچني او کمزوري دولتونه ځای پر ځای کړل. جهاد ودرېد او مسلمانان له دې لارې د اسلامي دعوت په لېږد ونه توانېدل. ان له اسلامي خاورو څخه د اشغالګرو د شړلو او له امت څخه د دفاع لپاره هم جهاد نه و. همدارنګه اوسنیو حاکمو دولتونه هم لاس ترې واخیست، ځکه چې دغو دولتونو ته امریکا امر کړی، چې د دوی امر به مني او سر به ورته ټیټوي. ښکاره بېلګه یې د هند له خوا کشمیر نیول دي، ایا پاکستان یې د ازادولو لپاره د جهاد اعلان کړی!؟

دغه راز امریکا عراق ونیو، ایا د دغو کمزورو دولتونو له ډلې کوم یوه یې د ازادولو لپاره جهاد اعلان کړ!؟ فلسطین تر اوسه د یهودو له خوا اشغال دی او د مسلمانانو حکامو یهودو ته په غنیمت کې ورکړی، تر څو یې په غرب کې بادار ترې راضي شي. د فلسطین قضیه یې یو څو کسانو او ډلو ته پرېښې ده او دغه ډلې په هېڅ صورت د دښمن د اېستلو او د هغوی پر وړاندې د درېدلو توان نه لري؛ ځکه امکانات یې کم دي او توانایي یې محدوده ده. همداراز دغه سست دولتونه پر دغو ډلو خپل تسلط ساتي او په وسلو ورکولو سره له خپل کار څخه سترګې پټوي. نو اوسمهال بریدګر او دفاعي دواړه ډوله جهاد نشته او عملاً د خلافت دولت ته اړتیا ده، څو یې په واقعي بڼه رامنځته کړي. د دې دولت د رامنځته کېدو لپاره، د رسول الله صلی الله علیه وسلم منهج (لارې) او هر اړخیزو هڅو ته اړتیا ده. لکه څنګه یې چې تاسیس په فکري او سیاسي مبارزې او طلب النصره باندې ثابت شوی دی.

اسلام د غرب له ټولو غلامانو او هغو شیطانانو څخه پیاوړی دی چې په څنګ کې یې ولاړ دي؛ د دوی دسیسې به هېڅکله د اسلام عظمت ټیټ نه کړي، سره له دې چې له ډېر وخت راهیسې دغه غلامان پر مسلمه امت واکمن دي؛ داسې کسان هم شته چې د امت د تعلیمي برنامو د تحریف لپاره یې شپې سبا کړي او د امت د ګمراه کولو او هویت له منځه وړلو لپاره هڅې کوي. دغه راز میلیونونه ډالر یې ولګول، تر څو د الله سبحانه وتعالی د دین د حاکمیت او پراخېدو مخه ونیسي. خو دا هیلې یې لاهم په زړونو کې پاتې دي. د الله تعالی په توکل به په نیږدې راتلونکې کې ماتې وخوري. کله چې امت د خپلو چارو په لاس کې اخیستلو ته تیار شي او اسلام ته یې خپل ځای ورکړي -یعنې پلی یې کړي -او دې کار ته اراده وکړي، نو هغه وخت به د هغوی او هغو کسانو چې ملاتړ یې کوي، فرېبونه او دسیسې له خاورو سره خاورې شي.

**﴿وَٱلَّذِينَ يَمۡكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ وَمَكۡرُ أُوْلَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ﴾**

[فاطر: ۱۰]

***ژباړه:*** *«هغه کسان چې ناوړه دسیسې جوړوي، سخت عذاب به ووینې او دسیسې یې پخپله له منځه تلونکې دي.»*

له شک پرته چې راتلونکی به د دې لوی دین وي او دا دین به په یوازې ځان د هغو مظلومانو ډال وګرځي، چې د پانګوالۍ حریص نظام پرې مسلط دی. دوی دغه مظلومان د خپل نظام ډال ګرځولي، هغه نظام چې انسانان لکه غنم دل کوي. خو که د الله سبحانه و تعالی خوښه وه دغه ورځې به ډېر کم دوام وکړي او ډېر ژر به د نبووت پر منهج د راشده خلافت لمر سر راپورته کړي، تر څو هغه دونیا چې ظلم او تیارو لاندې کړې، بېرته د عدالت په وسیله روښانه کړي. له شک پرته چې دا ورځ ډېره رانیږدې شوې ده.

**لیکوال: حامد عبدالعزیز**

**د حزب التریر ـ ولایه مصر د مطبوعاتي دفتر غړی**

**ژباړن: حبیب الله**